بسم الله الرحمن الرحيم
سر یال نمبر: 370
یووالی، ایمان، انضباط
دملت غږ

# ټانک؛ د خوارجو پر ضد د امنيتي ځواکونو لويه بريا
# څلور تنه ترهګر وژل شوي او ګڼ شمير نور ټپيان شوی

د ټانک په مضافاتو کې د استخباراتي معلوماتو په اساس د امنيتي ځواکونو د ګډو عملياتو په نتيجه کې څلور مطلوب ترهګر وژل شوي او ګڼ نور ژوبل شوي، وسلې او مهمات ترلاسه شوي دي۔

**د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو د ترهګرو د تګ راتګ په لاره کې کمين نيولی او هغه مهال يې په نښه کړل کله چې دوی د ترهګريزو کړنو لپاره روان وو. د سختو ډزو او مخامخ جنګ کې څلور تنه ترهګر وژل شوي او ګڼ نور ټپيان شوي دي۔**






**ټپي ترهګرو خپلو بزدلانو ته د مرستې لپاره چيغې وهلي خو هيڅوک يې مرستې ته نه دي راستانه شوي۔ د زخميانو او تښتيدلو ترهګرو د موندلو لپاره د لټون عمليات روان دي۔**

په ټانک او مضافاتو کې د امنيتي ځواکونو د ښه او جارحانه تګلارې له امله ترهګر په تګ راتګ کې له سختو ستونزو سره مخ دي او ورځ تر بلې د امنيتي ځواکونو لخوا وژل کيږي، الحمدالله